

داکتر ط. پامیر

## امنیتی تړون اود قضایي مصئونیت ستونځه

دامریکې او افغانستان تر منځ د امنیتی تړول پر سر خبری د ۱۳۹۱کال له لمړیو میاشتو راهیسی کله چې دامریکې د متحده ایالتونو او افغانستان تر منځ دسترا تیژیکی ملگرتیا تړون لاسلیک شو، روانی دی. په دی مودی کی دواړو خواوو هڅه کړی چې خپلې غوښتنې یو پر بل ومنی. خبری به لمړی سرکی ښې روانی وی او هیله کیده چې ډیر ژر به ددی تړول پر سر خبری بشپړی شی ځکه چې دامریکې اوافغانستان داړیکو د پا یښت په وړاندی داسی کوم ستر خنډ او غوښتې نه لیدل کیدی چې ددی تړون دلاسلیک مخه دی ونیسی.

امنیتی تړول په واقعیت کی د افغانستان او امریکې تر منځ د هغه سترا تیژیک تړون یوه برخه جوړوی کوم چې مخکې لاسلیک او ددواړوملکونو د اړونده ارګانونو لخوا تصویب ا و قانونی بڼه یې غوره کړیده. افغان دولت هیڅکله هم له امریکې او ناټوملکونو نه داسی غوښتنه نده کړی چې خپل پوځونه له افغانستان څخه وباسی اویا یې له ۲۰۱۴ کال نه وروسته دشتون کچه را ټیټه کړی. دا دی امریکې یوه اړخیزه پریکړه ده چې د ولسمشر بارک اوباما د " وتلو" دکړنلاری نوم ورکړل شویدی.

همدا شان، د امریکا او ناټو پوځیانو د قضايي مصئونیت مساله هم کومه نوی خبره نده. تر یوی لسیزی ډیره موده نوموړی پوځونه دافغانستان په خاوره کی میشت دی او قضايي مصئونیت یې دهغی هوکړی پر بنسټ چې دافغانستان او امریکی تر منځ په ۲۰۰۳ کال کی و شوه، منل شوی دی. په تیرو کلونو کی هیڅ یو امریکايي - ناټو پرسونل که پوځی دی اویا ملکی ان د ښکاره او درندو جرمونو او سرغړونو سرسره، افغان عدلی نظام او محکمی ته نه دی سپارل شوی. په ۲۰۰۹ کال کی دیوه جرمنی پوځی ډګروال په امر د کندوز ولایت د چاردری په ولسوالۍ کی د یوی هوايي بمباری په پایله کی نژدی سل ملکی کسان ووژل شول. د ۲۰۱۲ کال د مارچ دمیاشی په یو لسمه نیټه یوه امریکايي عسکر په خپل سر اوپه ډله ایز ډول ۱۶ ملکی وګړی مړه کړل. هغه جرمن ډګروال او همدا شان امریکايي عسکر په بشپړ خوندی توب خپلو ملکونو ته ولیږ دول شول خو دافغانستان حکومت هیڅکله هم افغان عدلی ارګانونو ته ددغو پوځیانو د سپا رلو غوښتنه نده کړی. اوس څه پیښ شوی چې د خارجی پوځیانود قضايي مصئونیت په سر دخبرو لپاره باید مشورتی لویه جرګه، هغه چې نه په قانون کی ځای لری اونه یې پریکړی د اعتبار وړ دی، راوبلل شی.

زما په اند دلته ځینی عینی او ذهنی عوامل دپام وړ دی چې په پر امنیتی تړون یې سیوری اچولی دی:

**لمړی**، له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کی دبهرنیو ځواکونو په ما موریت او په حقوقی وضعیت کی ژور بدلون راځی. د ملګرو ملتونو دسازمان تر چتر لاندی دنړیوالو امنیتی ځواکونو( Isaf) ماموریت چې په هکله یې پراخ نړیوال ملاتړ، هوکړه او پوهاوی موجود وو، پای ته رسی او ورسره ددغو پوځونو اختیار (Mandate) چې د ملګرو

ملتونو دامنیت دشورا له خوا تاکل شوی دی، ختمیږی. له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کی دبهرنیو پوځونو شتون، مخی او حقوقی وضعیت ددوه اړخیزو هوکړو اوتړونونو پر بنا ټاکل کیږی چی دخرنګوالی په باب یی نړیوال او سیمه ایز پوهاوی اوهمغږی نشته. لنډه داچی دلته، خبره دایساف په اډانه( چوکاټ) کی دنړیوالو ځواکونو د ماموریت د غځولو بر سر نه ده. اوس د افغانستان، امریکی او ناټو تر منځ د راتلونکی اوږد محاله پوځی اړیکو اوملګرتیا دبنسټ تیږه( ډبره) ایښودل کیږی. اړینه ده چی دا تیږه په ډیر ځیر( دقت) سره اوسمه کیښودل شی.

وایي " سنګ اول چون نهد معمار کج * تا ثریا میرود دیوار کج".

دبن کنفرانس او پریکړه لیک یی ښه بیلګه ده چی په ډیره بیړه تر سره شول او اوس ټول پری نیوکی کوی اوهغه د جنګ جګړی داوږدوالی اوپه تیره لسیزه کی دیوی غوره دولتی اداری دنه جوړیدو یو ستر عامل ګڼی.

**دویم**، دسیمې هیوادونه او په ځانګړی ډول دافغانستان ګاوندی، دافغانستان ، امریکی او ناټو اوږد محاله پوځی اړیکو ته د شک په سترګه ګوری اوځینی یی لکه ایران او پاکستان ان خپلو امنیتی ګټوته ننګ په نیغه خطر ګڼی. روسیه اوچین دافغانستان دوه نور ګاوندی سره له دی چی د تروزیزم په وړاندی په مبارزه کی له امریکی او ناټو هیوادونو سره همغږی لری خو د خپلو پولو سره نژدی په افغانستان ددغه هیوادنو پوځی غوځښتونه اومخی په کره توګه څاری. دافغانستان دولت ته ښایي چی خپلو ګاونډیو ته ډاډ ورکړی چی دافغانستان خاوره به دهغوی دحاکمیت اوملی ګټو پر ضد نه کارول کیږی. همداشان افغانستان باید د ګاونډیو هیوادونو د منفی غبرګون بیه په هر اړخیز ډول وشمیری( محاسبه کړی) هیر مو نشی چی افغانستان په وچه کی راګیر هیواد دی

چې لار یې خپلو لویدیزو ستراتیژیکو ملګرو ته له ګاونډیو ملکونو تیریږي. په دې وجه له ګاونډیو هیوادونو سره ښې اړیکې ساتل د افغانستان لپاره حیاتي ارزښت لري. افغان حکومت ته ښایي چې زموږ په ملک کې د نورو هیوادونو پوځي سیالیوته لاره هواره نکړي، د ګټو له ټکر نه ډه ډه وکړي اود امکان تر حده پورې زیار وباسي چې د خپلو لمړیتوبونو په پام کې نیولو سر سره دلته دځو اړخیزو ګټو یومناسب انډول را منځ ته شي. که داسې ونشي نو بیا اړینه ده چې افغانستان ته دامریکې او ناټو له لورې داسې کره اوکلک ضمانتونه ورکړل شي چې دا هیواد به هیڅکله اودهیڅ ډول ګواښونو پر وړاندې یوازې نه پریښودل کیږي.

**دریم**، په امنیتي تړون کې همدا شان خبره دیوه پوځي بلاک ( سازمان) سره دافغانستان داوږد محاله او ستراتیژیکو اړیکو او په ځانګړې تو ګه زموږ په خاوره کې ددغه بلاک د غړو هیوادونو دپوځي اډو پر سر ده. دداسې اډو شتون او پخپله دافغانستان له لورې د ناټو هیوادونو سره پوځي تړون، دافغانستان دبیطرفۍ دودیزې کړنلارې ته دپای ټکي ږدي. هیڅ افغان مسؤل حکومت نشي کولای دداسې یو تړون سیاسي پایلې له پام نه وغورځوي.

**څلورم**، دافغانستان او امریکې تر منځ د باور او اعتماد مساله. په وروستیو کلونو کې وروسته له هغې چې بارک اوباما د امریکې ولسمشر وټاکل شو، دامریکې او افغانستان اړیکو ډیرې هسکې، ټیټې لیدلې دي. بارک اوبا ما ان دخپلې واکمنۍ په لمړیو ورځو کې حامد کرزی یو بې وسه ولسمشر وباله او هڅه یې وکړه چې ددوهم ځل لپاره دښنا غلی کرزی دبیا ټاکلو مخه ونیسي. کرزي پښې ټینګې کړې او د ښاغلی بارک اوبا اداره یې دده

په وړاندی په دسیسه تورنه کړه. له هغه وخت راهیسی ښاغلی کرزی هیڅ فرصت له لاسه ورنکړ چی ووایی " بهرنی پوځونه اوموسیسی په افغانستان که دفساد اصلی سرچینه ده، د تروریزم تر نامه لاندی دخلکو په ژوند اوعزت تیری کوی ، دافغانستان حاکمیت یی تر پښو لاندی کړی دی ، دسولی اوامنیت په راوستلو کی پاتی راغلی دی"

دښاغلی اوبا ما د اداری او "ارګ" تر منځ اړیکی، امریکی ته دکرزی د وروستی رسمی سفر وروسته نوری هم ترینګلی شوی. په سپینه ماڼۍ کی افغان ولسمشر کرزی ته په ډانګ پیلی وویل شول چی د امریکی متحده ایالات وروسته له دی طالبان خپل دښمن نه ګڼی او پاکستان دالقاعدی سره په مبارزه کی یو متحد اوستراتیژیک ملګری بولی. ښاغلی کرزی هم په خپل غبرګون کی پاتی را نغی او سملاسی یی په مطبوعاتی وینا کی وویل: اوس چی داسی ده، یعنی امریکا له طالبانو سر کومه دوښمنی نه لری نو اړینه ده چی بهرنی ځواکونه نوردافغانستان په کلو اوبانډو کی خپل پوځی شتون، عملیاتو اوبمباری ته دپای ټکی کیږدی. دخلکو نیول، ځورول او دخلکودکورنوپلټل بند کړی داځکه چی دالقاعده مرکزونه اوپټ ځایونه په افغانستان کی دننه نشته بلکه په پاکستان کی دی.

څو میاشتی وړاندی کله چی دپاکستان په منځګړیتوب دامریکی او طالبانو تر منځ خبری اتری ډاګیزی شوی، حامد کرزی په حیرانونکی ډول درسنیو په وړاند داسی څه وویل چی په سیاسی او دیپلوماتیک دود کی یی ساری نه لیدل کیږی. ښاغلی کرزی وویل چی امریکا او طالبان یو له بل سره همغږی لری او په افغانستان کی د جنګ، جګړی اورته لمن وهی. " دوی ( امریکا اوطا لبان) هلته د اروپا ،آسیا، دوبۍ اوپاکستان په لکسو هوټلونو که ناستی کوی اودلته په افغانستان کی زمونږخلک وژنی "

د افغانستان حکومت  په قطر کی د امریکی او طالبانو د مخامخ خبرو په غبرګون کی د امریکی سره دامنیتی سند پر سر خبری ودرولی.

سره له دی چی دامریکی متحده ایالتونو په وروستیو ورځو کی هڅه وکړه چی دافغانستان ددولت اندیښنی لری او ځینی اساسی غوښتنی یی ومنی، خو " ارګ" او دافغانستان ځینی سیاسی کړی تر اوسه هم د امریکی نیت  او مخوته دشک په سترګه ګوری.

**پنځم، د بهرنیو ځواکونو د قضایي مصئونیت په باب ناسم پوهاوی.**

ډیری سیاسی شخصیتونه اوعام  وګړی داسی انګیری چی ګڼی قضایي مصئونیت چه ځینی کار پوهان یی قضایي خوندیتوب هم بولی، په دی معنادی چی مجرم اوله قانون نه سر غړونکی کس به عدالت ته نه وړاندی کیږی( سړی مړ کړه، غلاوکړه، دچا په مال اوعزت تیری وکړه او آزاد ګرځه). دایو ناسم پوهاوی دی. قضایي مصئونیت د قضایي معافیت په معنا ندی.

په حقوقی نظام کی اویا په بله ژبه د حقوقو پر بنا، قضایي مصئونیت یوه حقوقی اصطلاح او معنا یي داده چی له قانون څخه د ځانګړو شخصیتونو دسرغړونو څیړنه( محاکمه کول) په ځانګړو حالاتو کی د ملی قانون اویا نړیوالو تړونونو پر بنسټ ددغی یا هغی محکمی دواک له حوزی نه وتلی ده اویا داچی  دداسی شخصیتونو محاکمه په ځانګړو تر تیباتو سره تر سره کیږی.

داځانګړتیا او امتیاز ددغو شخصیتونو له هغو غوره دندو سره تړاو لری کومی چی نوموړی شخصیتونه یی پر مخ بیایي. ددندی نه دګوښه کیدو په صورت کی ددغو شخصیتونوقضایي مصئونیت هم خپل اعتبار له لاسه ورکوی. په عمومی توګه او په سیاسی

ادبیاتو کی د **سیاسی مصئونیت، پارلمانی مصئونیت ٍ، قضایي مصئونیت، جرمی مصئؤنیت اود دیپلوماتیک مصئونیت مفاهیم تر سترګو کیږی.**

- دملی قانون سره سم، دولتی مشران ( ولسمشر ) دملت استازی ( د پارلمان غړی او سیمه ایزو شوراګانو غړی)، قاضیان، په محکمه کی ددعوی دواړه غاړی او شاهدان مشروط قضايي مصونیت لری په دی معنی چې ددغو اشخاصو محاکمه په ځانګړو شرایطو اوتر تیباتو پوری تړلی ده نه داچې هغوی دی له هرډل تعقیب ا و محاکمی نه معافیت ولری. دمثال به توګه داساسی قانون د ۶۹ مادی سره سم دافغانستان دولشمر دمحاکمی تر تیبات او څرنګوالی په لاندی ډول دی:

" پر جمهوررئیس د بشري ضدجرمونو، ملی خیانت یا جنایت دارتکاب تور لګول د ولسي جرګې د ټولو غړ یو د دریمې برخې له خواغوښتل کیدای شي . که چیرې داغوښتنه د ولسي جرګې د ټولو غړیو له دریو څخه د دوو برخو د رایو له خواتایید شي، ولسي جرګه د یوېمیاشتې دننه لویه جرګه دایروي. که لویه جرګه منسوب شوی اتهام د ټولو غړیو له دریو څخه ددوو برخو د رایو په اکثریت تصویب کړی ، جمهور رئیس له وظیفی څخه ګوښه او موضوع ځانګړ ي محکمې ته سپارل کیږی. ځانګړی محکمه دولسی جرګی له دریو غړیو، دستري محکمی له دریو غړیو چې لویه جرګه یې ټاکي او د مشرانو جرګې له رئیس څخه جو ړیږي ، دعوي د هغه شخص له خوا چې د لوې جرګی له خواه ټا کل کیږی ، اقامه کیږی "

له پورتنیو تر تیباتو پرته او په مستقیم ډول هیڅ یو امنیتی اوعدلی ارګان حق نه لری چه ولسمشر دخپل کار په قانونی موده کی دکوم جرم په تور ونیسی اویا یي محاکمه کړی.

- دنړیوال قانون پر بنا ( د ۱۹۶۱ کال ددیپلوماتیکو اړیکو په باب د ویانا کنوانسیون؛ د ۱۹۴۶ کال دملګرو ملتونو د مصؤنیت په باب کنوانسیون؛ د۱۹۴۷ کال د ملګرو ملتونو داختصاصی موسسو د مصئونیت کنوانسیون او داسی نور) ددولتونو استازی،

ديپلوماتان ا و په کوربه هيواد کې و رسره دهغوی دکورنی غړی، نړيوال سازمانونه او په دغه سازمانو کې ددولتونو پلاوی له قضايي مصئو نيت څخه برخمن دی خو دامصئونيت د سياسی مصئونيت په شان په بشپړ ډول د قضايي معافيت په معنا نه دی. که چيرته کوم بهرنی ديپلومات د کوربه هيواد له قانون څخه سر غړونه اويا کوم جرم وکړی، کوربه هيواد حق لری چې نوموړی ديپلو مات ناوړه شخصPersona Non Grata وبولی او ورته امر وکړی چې په ټاکلی وخت کې کوربه هيواد پريږدی. کوربه هيواد حق لری چې دديپلومات د تابعيت له هيواد نه وغواړی چې په جرم کې د تورن ديپلومات له قضايي مصونيت نه تير شی او يا داچې په دغه ديپلومات لګيدلی تور دی د ليږونکی ملک ( دتابعيت هيواد) د عدلی او قضايي ارګانونو له لوری وڅيړل شی او رسيدلی تاوان دی وکالی (تاوان ورکړی) . دد يپلومات د تابعيت دولت په هغه صورت کې چې دنوموړی ديپلومات کړنه دتابعيت د ملک د قانون پر بنا جرم وګڼل شی، دغه کس پخپله خاوره کې او دخپل ملک د قانون سره سم محاکمه کوی. لنده داچې په بهر کې له مصئونيت نه برخمن شخص( ديپلومات) دخپل هيواد د عدلی ارګانونو له خوا تعقيب او محاکمه کيدای شی ځکه دلته قضايي مصئونيت نلری. لکه څنګه چې وړاندی وويل شول، قضايي مصئونيت په ملی او نړيوالو عامه حقوقو کې د ځانګړو شخصيتونو اوله هغو دندو سره تړاو لری کومی چې په ملی اونړيوال قانون کې په ګوته شوی دی.

- له پورتنيو حالاتونه پرته هيڅ يو بهرنی تبعه که ملکی دی او يا پوځی شخص، په کوربه هيواد کې هيڅ ډول قضايي مصئونيت نه لری مګر داچې دآزادو او ملی حاکميت لرونکو ملکونو ددوه اړخيزو سياسی، اقتصادی او پوځی اړيکو د هو کړی او تړون په لړ کې د تړون دواړو اويا يوی غاړی د ځانګړو اتباعو( پوځيانو) لپاره ځينی بنيګڼی ،امتيازات او بيل حقوقی رژيم ( دبلګی په ډول قضايي مصئونيت) په پام کې نيول شوی وی.

داسی قضایي مصئونیت چي دنړیالو حقوقو سره سم( په آزاده اراده اوخپله خوښه) ددوه اخړخیز تړون پر بنا ځینی بهرنیو اتباعوته منل کیږی، ددولتونو د ملی حاکمیت سره په ټکر کی نه دی ځکه چي د تړون هغه غاړه چي دبل لوری لپاره ځینی ښیګڼی ( پوځی اډی او قضایي مصئونیت) په پام کی نیسی، په بدل کی یې د خپل ملی حاکمیت د ټینګښت او ملی ګټو دبسیاینی ( ملی امنیت، سیاسی، ټولنیز او اقتصادی ټکاو اووده) لپاره د پام وړ امتیازات، ګټی او ښیګڼی تر لاسه کوی.

دافغانستان او امریکی په امنیتی تړون کی مساله په همدا ډول ده. دلته  دمسالی دوضاحت ا وسم پوهاوی په خاطر اړین بولم چي وویل شی: که د افغانستان دولت په خپله خوښه او دافغانستان دلوړو ګټو پر بنا غواړی  چي د امریکی او نا ټو هیوادونو سره یو سترا تیژیک او امنیتی تړون ولری اوتیار دی چي د غو هیوادونو ته په خپله خاوره کی پوځی اډی په واک کی ورکړی، نو بیا د دغو هیوادونو پوځیانو ته دقضایي مصئونیت په نه ورکولو ټینګار بی ځایه او هیڅ سیاسی منطق نه لری.

 له سیاسی پلوه، دبهرنیو پوځیانو قضایي مصئونیت ( په دی معنا چي بهرنی پوځیان به په افغانستان دسرغړونو او جرم په صورت کی د افغانستان د قانون سرسم او دافغانستان د محکمو لخوا نه بلکه د دغو مجرمینو دتابعیت دملکونو دقانون بربنا اود تابعیت ملک د عدلی اوقضایي ادارو له لاری تعقیب اومحاکمه کیږی) دافغانستان حاکمیت او ګټی له خطر او ګواښ سره نه مخامخ کوی، خو د یوه پوځی بلاک - دشمالی اتلانتیک تړون له سازمان سره امنیتی تړون او ددغه سازمان غړو ملکونو ته پوځی اډی په واک کی ورکول، د افغانستان دحاکمیت، ملی ګټو او دسیمی هیوادونو سره د افغانستان داړیکو لپاره ژوری او اوږدمحاله پایلی لرلی شی. دافغانستان دولت باید په هغی سیاسی تاوان بیې ( قیمت) چي ښایي په راتلونکی کی یې د امریکی او ناتو سره د

دستراتیژیک او امیتي ترون په خاطر ورکړی اودهغو ګټو اوښیګنو انډول ته کومې چې په نوموړي ترون کې نغښتي دي، تر هڅه ډیره پاملرنه وکړي.

زما په اند، پخپله دا پریکړه (دشمالي اتلانتیک له سازمان سره امنیتي ترون او ددغه سازمان غړو ملکونو ته پوځي اډې په واک کې ورکول) تر ټولو سخته، پیچلې، ستونځمنه او له تاریخي مسئوولیت نه ډکه پریکړه ده.

زه باور لرم چې ښاغلی کرزی په دې ښه پوهیږي او همدا وجه ده چې په دغه یا هغه پلمه، په داسې وخت کې چې دواکمنۍ موده يې په نژدې راتلونکې کې پای ته رسي، نه غواړي چې دا تاریخي مسئولیت په یوازې سر په غاړه واخلي. دمشورتي لويې جرګې درا غوښتلو ستر راز همدا دادی چې ښاغلی کرزی غواړي په دې تاریخي مسئولیت کې دټولنې ټول اړخونه او دسیاسي نظام ټول عناصر( ملي شورا ، حکومت، محلي اداري، مذهبي کړۍ، مدني ټولنه- سیاسي اوټولنیز سازمانونه، ور ګډ کړي.

08/11/2013